ایا تاسو ته بریا او رزق درکول کېږي مګر ستاسو د کمزورو له امله

له مصعب بن سعد څخه روایت دی وایي چې: سعد رضي الله عنه فکر کاوه چې هغه د هغه څخه پر ښکته کسانو غوره والی لري، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "ایا تاسو ته بریا او رزق درکول کېږي مګر ستاسو د کمزورو له امله".

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه فکر کاوه چې د هغه د زړورتیا او داسې نورو وړتیاوو له امله د نورو کمزورو په پرتله غوره دی! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا تاسو ته بریا او رزق درکول کېږي مګر ستاسو د کمزورو خلکو له امله، د دوی د دعاګانو، لمونځونو او اخلاص له امله؟ دوی ډېری وختونه په دعا کې ډېر مخلص او په عبادت کې ډېر عاجزي کوونکي وي ځکه چې زړونه یې د دنیا له زینت سره له تړاو څخه خالي وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3367